مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی خُدران ۲۰۲۳/۱۰/۲۷

د نواز شریف بیرته راستنیدل د پاکستاني پوځیانو نوي ډیل



که د پاکستان لنډ تاریخ ته په ځیر وکتل شي، ځواکمنو پوځیانو او جنرالانو د پاکستاني لومړي وزیرانو او سیاستوالو په عروج او زوال کي خورا مهم برخلیک ټاکونکي رول لوبولي دی. تر اوسه د پوځي اشتبلیشمنټ جنرالانو له واکه د پاکستاني سیاستوالو په لیري کولو کي مهم رول لوبولي دی. نواز شریف دري ځلي لومړي وزیر تیر شوي. په ورستي ځل له زندانه د خلاصون په موخه لندن ته وتښتیدلو. وسمهال د پاکستاني پوځي اشتبلیشمنټ سره په یوه پټ ډیل او سریع ماموریت کي بیرته راغلي دی.

د پاکستان ستري محکمي د نواز شریف موقتاً د نه نیولو کیدو حکم هم صادر کړي. د ستري محکمي د حکم پر بنسټ نواز شریف ته د تګ لاره هواره شوه، څو په بریتانیا کي له ځلور کلني جلاوطنۍ ورسته هیواد ته راستون شي. نواز شریف ځلور کاله د لندن په مرکز کي په یوه لوکس کور کي پټ ساتل کیده.

نواز شریف اسلام اباد ته تر رسیدو ورسته سمدلاسه لاهور ته ځي او هلته د پوځیانو په اجازه ورته یوه ستره غونډه پلان شوي او جوړه شوي وه.

اوس د پاکستان پخوانی بد نامه لومړی وزیر نواز شریف په لندن کي له جلاوطنۍ ورسته بیرته پاکستان ته په دې هیله راستون شوي، څو د فساد په تور لومړي محکمه شي او بیا ځان په راتلونکي کي یو ځل بیا په ټاکنو کي ونماند کړي. نواز شریف د تیري شنبې په ورځ لاهور کي خپلو لسو ګونو زرو پلاویانو په وړاندې وویل، چې زه به له خپلو مخالفینو غچ ونه اخلم.

په 2017 کال کي خپله نواز شریف د لومړي وزیر په توګه د فساد په دوو قضیو کي مجرم پیژندل شوي دی او له دي کبله له دندي لېرې کړل شوي دی. په 2018 کال په لسو کالو بند محکوم شوي دی.

په 2019 کال کي په لندن کي له درملنې ورسته راستون نشو.

نواز شریف د جنوري میاشتي تر ټاکنو مخکي د خپل مسلم لیک (ن) ګوند لپاره د کمپاین کولو مشرۍ په توګه بیرته راستون شوي دی.

د پاکستان په ستره محکمه کي د نواز شریف په وړاندې د پاناما اسنادو افشا کیدو په لړ کي د اداري فساد څېړولو په موخه تحقیقات هم شوي دي. د ستري محکمي لخوا د نواز شریف د کورنۍ په غړو یا دریو وارو اولادنو باندې د پاناما په نامه د خدماتو چمتو کونکي شرکت (Mossack Fonsenca Offshoere- Companies) په مرسته د پیسو د لیږدولو لپاره یو بل شرکت په بهیر کي جوړ کړي و، له دې امله پر نواز شریف د مالي فساد تور لګول شوي دی.

د نواز شریف لیري کولو یا د استعفا ترشا مستقیماً د پوځیانو لاس و. د ستري محکمي لخوا د ګډي پلټنې لپاره کومه شپږ کسیزه ډله جوړه شوي وه، د هغې. یو غړی د آی آیس آي او بل غړی د پوځي استخباراتو څخه و. د پاناما په قضیه کي پرته له شکه پوځیانو د نواز شریف په لري کولو کي مهم رول لوبولي دی.

د پاکستان پخوانی لومړی وزیر شریف د مالي فساد په قضیو کي په ضمانت خوشي شو. اوس نواز شریف د پنجابي پوځیانو سره په یوه پټه معامله کي لاهور ته رسیدلی دی. د پاکستان مخکښې لومړی وزیر دري ځله له واکه لرې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کړل شوي دی. اوس یو ځلي بیا نواز شریف له جلا وطني راستون شوي او غواړي د ځلورم ځل لپاره بیا د پاکستان حکومتي چاري او واک په لاس کي واخلي.
نواز شریف په پاکستان کي د لومړي وزیر په توګه د نهو کلونو په دوره کي د لومړي وزیر په توګه ریکارډ قایم کړي دی. خو هغه تر اوسه په دي نه دي توانیدلي، چي د خپلو دریو متضادو بیلا بیلو وختونو کي د صدراعظمي دورې تر پایه سر ته ورسوي. نواز شریف د پوځیانو د کودتا له لپاري لیري کړل شوي دی. په 2017 کال کي هغه په تصادفي توګه د پاناما اسناد په ډاګه کیدو له امله په مالي فساد تورن شوي دی. خو د خپلي یو کال سزا تیرولو ورسته نواز شریف ته اجازه ورکړل شوه، ځو د درملني لپاره لندن ته لاړ شي. نواز شریف د درملني ورسته د بیرته راستنیدلو غوښتني بلکول له پامه وغورځولي او په لندن کي پټ پاتي شو.
خو ورسته له هغي چي ستري محکمي په تیره اوونۍ کې حکم صادر کړو، چي 73 کلن نواز شریف د بیرته ستنیدو پر مهال ونه نیول شي. د ستري محکمي د حکم صادریدو سم نواز شریف یوه الوتکه کرایه کړه او د پاکستان په لور الوتنه وکړه. نواز شریف له ځلور کلني جلاوطنۍ ورسته د تیرې شنبې په ماسپښین اسلام اباد ته راستون شو او مابنام یي په خپله سیمه لاهور کي د خپل مسلم لیک (ن) زرګونو پلویانو ته وینا وکړه. لاهوریانو د هغه تود هر کلي وکړ.
نواز شریف باید محکمي ته ودرول شي، ځکه محکمي د نواز شریف په بیا سیاست کولو باندې بندیز لګولي دی. سره له دي نواز شریف دا خبره په ځرګنده وکړه، چي هغه غواړي، د جنورۍ میاشتي په پاي کي په تمه کیدونکي ټاکنو کي د مسلم لیګ (ن) ګوند مشري وکړي. کله چي نواز شریف دغه اعلان وکړ، د هغه کشر ورور شهباز یي ترشا ودریدو. شهباز د اګیسټ تر میاشتې پورې د پاکستاني حکومت مشر و. شهباز شریف په خپل واکمنۍ کي د خپل ورور ځخه د سیاسي فعالیتونو بندیزونه لیري کړل او تر عمومي ټاکنو مخکي خپله دنده یوه انتقالي حکومت ته وسپارله او نواز شریف ته یي لاره پرانیستله. پاکستان کي پارلماني ټاکنې باید د سپټمبر په میاشت کي ترسره شوي واې، خو اوس ټاکنې تر جنورۍ میاشتې پورې وځنډیدلي.
د پاکستان ټول سیاسي شنونکي په دي باور دي او پوهیږي، چي پنجابي واکمنو پوځیانو او جنرالانو له نواز شریف سره بیا د یوې معاملې په ترڅ کي یوې هوکړې ته سره رسیدلي دي. ټاکنې هم په همدې موخه شاته غورځولي شوي دي. پاکستاني جنرالانو په دي موده کي تر ټاکنو مخکي له نواز شریف سره په یوه ستراتیجیکه معامله باندې کار روان کړي دی. په هرصورت سیاسي کارپوهانو په دې نظر دي، چي د نواز شریف او پوځ ترمنځ خبرې اتري شوي دي. د نواز شریف محافظه کورنۍ په پاکستان کي په بیساري ډول ډیره شتمنې لري. نوار شریف په تیرو وختونو کي ځو ځله له زورواکو پوځیانو سره ستونزې درلودلي دي. اوس پنجابي پوځیانو تر عمران خان نواز شریف ته ډیره ترجیع ورکوي. نواز شریف تر ټولو ډیره د پوځیانو خبره ښه مني او نواز شریف د پوځیانو په کنټرول کي ښه ساتل کیږي. پوځیان نواز شریف ته د ثبات راوستو په سترګه ګوري او د پوځیانو غوښتنو ته بلا قیدو شرط غاړه ږدي. شریف په دي پوهیږي، که هغه بیا د زور وهلو او سترنزو جوړولو هڅه وکړي، نو هغه بیا په اسانۍ سره شوټ کړل شي او له واکه به غورځول کیږي. همدې پوځیانو یو ځلي د نواز شریف په وړاندې د عمران خان پلوي کوله. بیا عمران غوښتلو د پوځیانو واک ورمحدود کړي، چي له همدې امله د دوی ترمنځ دښمني رامنځته شوه. اوس دوی عمران خان په زندان کي کینولي دی او اجازه نه لري، چي په ټاکنو کي برخه واخلي.
په 2022 کال د پریل په میاشت کي عمران خان د عدم اعتماد په رائیه کي له دندې لرې شو. خو هغه لا هم د پاکستان مخکښ اپوزیسیون یو مهم شخصیت دی. د عمران خان په ځیر وسمهال نواز شریف هم د پارلمان ځوکۍ ته د کاندیدیدو وړ نه دی. عمران خان په یوه بله قضیه کي تورن شوي، هغه له ګوښه کیدو ورسته د حکومت په رسمي رازونو افشا کولو باندې تورن دی. په دې قضیه کي عمران خان د احتمالي مرګ له سزا سره هم مخ دی او احتمال لري چي عمران خان اعدام شي.
د نواز شریف ګوند ویلي، چي دوی غواړي نواز شریف د ځلورم ځل لپاره واک ته ورسوي او بیا یي لومړي وزیر کړي. پاکستان کي مخکي له مخکي ولسي جرګه یا پارلمان د تیر اګیسټ په میاشت کي منحل شوي.
دا مهال د شریف ځای ناستي عمران خان د فساد په تور په بند محکوم شوي دی. پنجابی مافیایي پوځیانو ټول پاکستاني سیاستوال بلاک میل کړي او د شطرنج سیاسي تختي په لوبه کي ټول سیاستوال په کشټ کي کینولي یا نیولي دي.
,, اس کي پیچي وردي هي,,
په پاکستان کي خلکو د سخت اقتصادي بحران، د امنیتي کړکیچونو، نا امنیو، د پاکستان تجزیه کیدلو له جهي په سیاست او حکومت باندې نوره خپل اعتماد او اعتبار له لاسه ورکړي دی. پوځیان او پاکستانیان پوهیږي، چي پاکستان د نړۍ له نقشي ځخه د ورکیدو په لور روان دی. نواز شریف په خپله وایي، چي ملک د بربادۍ او تباهۍ تر حده رسیدلي دی. وسمهال نواز شریف نور هغه سړی نه دی، چي پاکستان ورته اړتیا لري، نواز شریف دری ځلي یوه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

سوځيدلي ازمويل شوي بد نامه مهره ده، پاکستان د خپلو اقتصادي ستونزو او امنيتي او سياسي بحرانونو او کړکيچونو حلولو لپاره زړې فورمولي ته او سوځيدلو بدنامو مهرو ته اړتيا نه لري.

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ